# د ماشومانو د خوندي ساتنې اداري ولې له تاسو سره اړیکه نیولې ده؟

### مونږ له تاسو سره مرسته کوو

د ماشومانو د خوندي ساتنې د اداري تر ټولو مهمه دنده دا ده چې د دې ځارنه وکړي چې په ناروې کې ماشومان ښه او خوندي ژوند ولري. دا دنده مونږ له کورنۍ سره د مرستې له لارې ترسره کوو.
مونږ له تاسو سره ځکه اړیکه نیولې ده، چې یو کس ستاسو د ماشوم د ژوند په اړه اندېښنه لري او له همدې امله یې موږ ته خبر راکړی دی. مونږ غواړو له تاسو سره لیدنه وکړو او له تاسو یې واورو چې ژوند مو څنګه دی او د دې اندیښنې د راپور په اړه ستاسو نظر څه دی. که تاسو مرستې ته اړتیا ولرئ، مونږ د مرستې لپاره مختلف وړاندیزونه لرو چې کیدای شي د کورنۍ لپاره مو ګټور وي.
کله چې د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره له تاسو سره اړیکه نیسي، کیدای شي چې تاسو د ناآرامۍ احساس وکړئ، چې دا بالکل عادي ده. تاسو باید په دې پوه شئ چې مېندې او پلرونه پخپله هم مونږ ته راځي او د مرستې غوښتنه کوي او یا دا چې ماشومان پخپله هم له مونږ سره اړیکه نیسي. کله چې یو څوک د ماشومانو د خوندي ساتنې له اداري سره اړیکه نیسي، دا د دې لپاره وي چې ماشوم او کورنۍ یې مرسته ترلاسه کړي.
.

ځیني وختونه مونږ وینو چې د اندېښنې لپاره هیڅ دلیل شتون نلري او دوسیه تړل کېږي

### د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره له تاسو سره څه مرسته کولای شي؟

اړه په ګډه کار وکړو. په معمول ډول مونږ له یوې کورنۍ سره په ورته وخت کې له مختلفو لارو د لنډې یا اوږدې مودې لپاره مرسته کوو. ډیری وختونه مونږ مېندو او پلرونو ته لارښوونې او مشورې ورکوو او د مرستې لپاره له ښوونځي، وړکتون، ناو (NAV)، معالج ډاکټر او داسې نورو سره همکاري کوو.
همدارنګه مونږ کولای شو له تاسو سره په وړکتون کې د ماشوم د شاملېدلو یا دیوې داسې کورنۍ په پیدا کولو کې مرسته وکړو چې ماشوم مو په میاشت کې یو یا څو ځلې ورشي (besøkshjem) او همدارنګه د داسې نورو شیانو په برخه کې هم مرسته وکړو.

## تاسو کوم حقونه لرئ؟

کله چې تاسو د ماشومانو د خوندي ساتنې له ادارې سره مخامخ کېږئ، ګڼ شمېر حقونه لرئ. کله چې تاسو له مونږ سره لیدنه کوئ په دې اړه به لا زیات معلومات ترلاسه کړئ.  ستاسو ځینې حقونه په لاندي ډول دي:

- کله چې تاسو د ماشومانو د خوندي ساتنې له ادارې سره ملاقات لرئ، حق لرئ چې ژباړونکی (ترجمان) ولرئ. که ژباړونکي ته اړتیا لرئ، مونږ ته خبر راکړئ.
- میندې او پلرونه او همداشان ماشوم کولای شي له ځان سره د اعتبار وړ کس د ماشومانو د خوندي ساتنې له ادارې سره ملاقات ته راولي.
- تاسو حق لرئ چې د قضیې په اړه بشپړ معلومات ترلاسه کړئ.
- .تاسو په خپله دوسیه کې د همکارۍ حق لرئ

## د ماشومانو د خوندی ساتنې اداره کوم مکلفیتونه لري؟

د ناروې ټولې ښاروالۍ )کمونونه( باید د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره ولري.

- د ماشومانو د خوندي ساتنې د ادارې د کار بنسټ  باید [د ماشومانو د خوندیتوب قانون](https://lovdata.no) وي.
- کله چې د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره د اندیښنې وړ خبر ترلاسه کړي، مکلفیت لري چې د دې ارزونه وکړي چې د قضیې په اړه پلټنې تر سره کړي او که نه. که مونږ دې پایلې ته ورسېږو چې د ماشوم د ژوند په هکله باید پلټنې ترسره شي، نو د ماشوم شاوخوا خلکو سره خبرې کوو تر څو دا معلومه کړو چې ایا ماشوم او د هغې کورنۍ مرستې ته اړتیا لري.
- د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره باید له ماشوم او کورنۍ سره د مرستې لپاره له نورو مرستندویه ادارو سره همکاري وکړي.
- د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره باید د کورنۍ کلتور، توکم (قوم)، دین او ژبه په پام کې ونیسي.
- د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره باید دا تضمین کړي چې ماشوم او مور او پلار یې بشپړ معلومات او فرصت ترلاسه کړي تر څو د قضیې په اړه خپل نظر څرګند کړي.

**کله چې یو ماشوم او یا د هغې کورنۍ ستونزې ولري، د ماشومانو د خوندي ساتنې اداره کولای شي له دوی سره مرسته وکړي. که د ماشومانو د خوندي ساتنې د ادارې په هکله لا زیاتو معلوماتو ته اړتیا لرئ، لاندې انټرنټ پاڼې ته مراجعه وکړئ: [bufdir.no/barnevern](https://bufdir.no/barnevern)**